السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# هغه يوه ورځ هم داسې ندي ويلي چې اې زما ربه! ماته د قيامت په ورځ زما ګناهونه وبخښه

له عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې وایې: «ما وویل: اې د الله رسوله، ابن جدعان به په جاهلیت کې خپلوي ( صله رحمي ) پاللـه او مسکینانو ته به يې ډوډۍ ورکوله، نو آيا دا - کارونه - ورته ګټه رسوي؟ هغه وفرمايل: « ګټه ورته نه رسوي، هغه يوه ورځ هم داسې ندي ويلي چې اې زما ربه! ماته د قيامت په ورځ زما ګناهونه وبخښه«.

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبدالله بن جدعان په اړه چې له اسلام څخه مخکې د قريشو له مشرانو څخه و، وفرمايل: د هغه له نيکو اعمالو څخه دا دي چې خپلوانو سره خپلولي پالي، له هغوی سره نيکي کوي، مسکينانو ته خواړه ورکوي او داسې نور نيک کارونه کوي چې اسلام يې په تر سره کولو ټينګار کړی دی، نو په الله تعالی باندې د هغه د کفر له امله ورته دا کارونه په آخرت کې هيڅ ګټه نه رسوي، ځکه هغه يوه ورځ هم ندي ويلي چې: ربه، د قيامت په ورځ زما ګناه راوبخښه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65009

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee